صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
ویب سایت: www.parmakhtag.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان




شماره ۱۱۰

د افغانستان اسلامي امارت، د رياست الوزراء مقام د دفتر عمومي رياست، د وياند دفتر، د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

د تأسيس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 ميلادي | د چاپ نېټه: محرم الحرام ۷، کال ۱۴۴۸ هجري قمري

## د افغانستان اسلامي امارت
# رئيس الوزراء د قزاقستان لومړي وزير مرستيال
## او د اقتصاد وزير سره وکتل



د افغانستان اسلامي امارت رئيس الوزراء محترم الحاج ملا محمد حسن اخوند د قزاقستان د لومړي وزير مرستيال او د اقتصاد وزير ښاغلي سېريک ژومان ګارين سره چې د لوړ پوړي پلاوي په مشرۍ کابل ته په رسمي سفر راغلی، وکتل. په دې کتنه کې چې په ګلخانې ماڼۍ کې ترسره شوه، د بهرنيو چارو وزير محترم مولوي اميرخان متقي، د صنعت او سوداګرۍ وزير محترم نورالدين عزيزي او د رياست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئيس محترم ډاکټر ملا عبدالواسع...


۵

## ملا عبدالغني برادر اخوند: د افغانستان او قزاقستان د اقتصادي همکاريو لار نقشه دې ژر نهايي شي



۲

## افزایش ۷۷.۹ درصدی انتقالات اموال تجارتی از طریق خطوط آهن در سال ۱۴۴۷ هجری قمری



۲

## ماه محرم‌الحرام؛ بیانگر ایثار، شهادت و فضیلت است

ماه محرم، ماه حماسه، ایثار و فداکاری، یاد و خاطره شهادت خلیفه دوم مسلمانان حضرت عمر فاروق -رضی‌الله عنه، یادآور قیام جاودانه سیدنا حسین -رضی‌الله عنه- و یاران باوفایش، و نیز یوم پر فضیلت عاشورا را داراست. هر کدام از این ایام بالاخص در مورد فضیلت یوم عاشورا در روایات تاکید گردیده است. ماه محرم تنها یادآور چند حادثه تاریخی نیست، بلکه این ماه بیانگر درس بزرگ برای مردانگی، عدالت، وحدت، صبر و پایداری است. رسانه‌ها به عنوان زبان جامعه و پل ارتباطی میان مردم، مسئولیت دارند تا با انعکاس پیام‌های اصیل این ماه، فرهنگ همدلی، اخوت اسلامی، احترام متقابل و ارزش‌های انسانی را تقویت نمایند. بهره‌گیری از فضایل و تعالیم یوم عاشورا می‌تواند در تحکیم وحدت صف، ترویج اخلاق نیکو و آگاهی‌بخشی به جامعه نقش مؤثری ایفا کند. امید است که امت اسلامی با الهام از پیام‌های رسای ماه محرم، در مسیر حق، عدالت، برادری و خدمت به مردم گام‌های استوار برداشته و برای عزت، پیشرفت و آرامش جوامع اسلامی بیش از پیش تلاش نمایند.

مولوی نعیم الحق حقانی
رئیس مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت

## قزاقستان په کابل کې د درملو د پلور څانګه او د سوداګرۍ خونه پرانيزي



۵

**استحکام نظام اسلامی با آموزش دین تحقق می یابد، کوشش کنید که به مردم دین را بیاموزانید، مذاکرۀ دین را کنید و تمام تان به تقوا استوار بمانید.**

**از ارشادات رهنمودی عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی**

## جلسهٔ کمیسیون اداری تدویر یافت

جلسهٔ کمیسیون اداری تحت ریاست محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء و با حضور اعضای کمیسیون متذکره تدویر یافت...

۲

## تلاش‌های وزارت شهرسازی و مسکن برای حل کمبود خانه در کشور

۲

### سرمقاله

## د افغانستان او قزاقستان اقتصادي نږدېوالی؛ د سيمه‌ييز اتصال او سوداګريزې ودې نوی فصل

کله چې د هېوادونو ترمنځ اړيکې له سياسي خبرو اترو څخه د اقتصادي همکاريو عملي ډګر ته داخلېږي، نو پايلې يې يوازې د سوداګرۍ په ارقامو کې نه، بلکې د ملتونو په هوساينې، ثبات او پرمختګ کې هم څرګندېږي. د قزاقستان د لوړپوړي پلاوي وروستی سفر کابل ته د همدې حقيقت څرګندونه کوي؛ داسې سفر چې کولی شي د افغانستان او قزاقستان ترمنځ د اړيکو په تاريخ کې د يوه نوي او اغېزناک فصل بنسټ کېږدي.
په وروستيو کلونو کې افغانستان هڅه کړې چې د سيمې د اقتصادي همکاريو، سوداګريزو دهلېزونو او ترانزيټي شبکو په مرکز بدل شي. له همدې امله د قزاقستان په څېر د يوه مهم اقتصادي شريک لېوالتيا، چې غواړي له افغانستان سره خپلې سوداګريزې او پانګوالې اړيکې لا پراخې کړي، د هېواد د اقتصادي راتلونکي لپاره يو مهم او هيله‌بښونکی پرمختګ بلل کېږي.
د افغان . قزاق اقتصادي فورم جوړېدل، د ګډې سوداګرۍ خونې پرانيستل، په کابل کې د قزاقستاني درملو د پلور مرکز رامنځته کول، د بانکي همکاريو پراختيا، د کانونو په سکتور کې د پانګونې لېوالتيا او...

۲

## سرمقاله

# د افغانستان او قزاقستان اقتصادي نږدېوالی؛ د سیمه‌ییز اتصال او سوداګریزې ودې نوی فصل

...د اوسپنې پټلۍ د لویو پروژو په اړه بحثونه، ټول هغه عملي ګامونه دي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي اړیکو د نوې مرحلې زېری ورکوي.

قزاقستان، چې د منځنۍ اسیا له مهمو اقتصادي قدرتونو څخه شمېرل کېږي، افغانستان د سیمې د یوه مهم او ستراتیژیک شریک په توګه ارزوي. دا لیدلوری د دې ښکارندويي کوي چې د افغانستان جغرافیایي موقعیت، طبیعي سرچینې او ترانزیټي ظرفیتونه ورځ تر بلې د سیمې د هېوادونو پام ځانته راګرځوي. همدا لامل دی چې دواړه هېوادونه د درې میلیارده ډالرو سوداګریزې کچې د ترلاسه کولو لپاره د اقتصادي همکاریو د لار نقشې پر چټک نهایي کېدو ټینګار کوي.

د افغانستان لپاره دا یو ستر فرصت دی چې له قزاقستان او نورو سیمه‌ییزو شریکانو سره د کرنې، صنعت، کانونو، ترانسپورټ، انرژۍ او سوداګرۍ په برخو کې ګډې پروژې پیاوړې کړي. هره نوې پانګونه، هره نوې سوداګریزه هوکړه او هر نوی ترانزیټي دهلېز نه یوازې اقتصادي ارزښت لري، بلکې د کارموندنې، تولید، صادراتو او ملي عوایدو د زیاتوالي لپاره هم زمینه برابروي.

نن د سیمې اقتصادي نقشه د بدلون په حال کې ده او افغانستان کولای شي د دغه بدلون یو فعال او اغېزناک لوبغاړی وي. د قزاقستان د لوړپوړي پلاوي سفر دا پیغام لري چې افغانستان نور یوازې یو مصرفي بازار نه، بلکې یو مهم اقتصادي شریک، د ترانزیټي اتصال مرکز او د پانګونې لپاره یو له پام وړ فرصتونو څخه ګڼل کېږي.

که د دواړو هېوادونو ترمنځ شوې ژمنې په عملي اقداماتو واوړي او اقتصادي تفاهمات د تطبیق پړاو ته داخل شي، نو دا به نه یوازې د کابل او آستانې ترمنځ اړیکې لا ژورې او پیاوړې کړي، بلکې افغانستان به د سیمه‌ییزې همکارۍ، اقتصادي ودې او پایدار پرمختګ په لور لا غښتلي ګامونه واخلي.

# جلسهٔ کمیسیون اداری تدویر...

...در این جلسه، نخست فعالیت‌ها و اجراآت کمیته‌های موظف پیرامون وظایف سپرده شده مورد ارزیابی قرار گرفت.

سپس روی موضوعات مربوط به وزارت‌های صحت عامه و امور شهداء و معلولین و همچنان ریاست عمومی انسجام امور شاروالی‌ها بحث و بررسی همه جانبه انجام شده و تصامیم لازم اتخاذ گردید.

در اخیر جلسه، جهت تدقیق و ارزیابی بیشتر بعضی از موضوعات شامل آجندا وظایف مشخصی به کمیته‌های جداگانه سپرده شد.

# افزایش ۷۷.۹ درصدی انتقالات اموال تجارتی از طریق خطوط آهن در سال...

...وزارت فواید عامه اعلام کرده است که میزان انتقالات اموال تجارتی از طریق خطوط آهن کشور در سال ۱۴۴۷ هجری قمری نسبت به سال گذشته ۷۷.۹ درصد افزایش یافته است.

بر اساس معلومات این وزارت، در سال ۱۴۴۷ هجری قمری از طریق بنادر حیرتان، آقینه، تورغندی و مسیر خط آهن خواف–هرات، در مجموع ۷ میلیون و ۶۰۲ هزار و ۴۱۹ متریک تُن کالا انتقال یافته است.

از این میان، ۵ میلیون و ۱۶۹ هزار و ۹۸۵ تُن از طریق بندر حیرتان، ۶۳۵ هزار و ۴۲۷ تُن از طریق بندر آقینه، ۹۱۴ هزار و ۷۹۶ تُن از طریق بندر تورغندی و ۸۸۲ هزار و ۲۱۱ تُن از مسیر خط آهن خواف–هرات جابه‌جا شده است. این انتقالات شامل اموال نفتی، غیرنفتی و سایر کالاهای تجارتی می‌باشد که به کشور وارد یا از آن صادر شده‌اند.

براساس آمار ارائه‌شده، بخشی از این انتقالات را صادرات و ترانزیت تشکیل می‌دهد. در سال ۱۴۴۷ هجری قمری، مجموعاً ۳۶ هزار و ۱۱۹ تُن اموال تجارتی صادر و یا ترانزیت شده که عمدتاً شامل میوه خشک، برنج، کچالو، سنگ‌های معدنی، تخم تربوز، نخود، مس و جوس آب انار بوده است.

این در حالی است که در سال ۱۴۴۶ هجری قمری، از طریق همین چهار بندر مجموعاً ۴ میلیون و ۲۷۲ هزار و ۷۱ متریک تُن کالا انتقال یافته بود.

# ملا عبدالغني برادر اخوند: د افغانستان او قزاقستان د اقتصادي همکاریو لار نقشه دې ژر...



...د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ارګ په چهارچنار ماڼۍ کې د قزاقستان د لومړي وزیر له مرستیال او د اقتصاد وزیر ښاغلي سریک ژومانګارین په مشرۍ راغلي هیئت سره وکتل.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال افغانستان او قزاقستان مهم سوداګریز شریکان وبلل او هیله یې څرګنده کړه، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د همکاریو لار نقشې په تطبیق سره به د سوداګرۍ حجم درې میلیارد ډالرو ته ورسېږي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، د کرنې، کانونو استخراج، ترانسپورټ، اوسپنې پټلۍ او صنعت برخو کې ګډ کار کول، د کرنیزو محصولاتو د صادراتو زیاتوالی، د بانکي اړیکو پیاوړتیا، د کرنې او مالدارۍ اړوند موافقتنامې، د مالي بازارونو په برخه کې تخنیکي همکاري، د داخلي اسعارو کارول، د ترانسپورټي او لوژستیکي همکاریو پراختیا، د افغانستان، ایران، قزاقستان او ترکمنستان د ګډ مرکز وړاندیز او په خارګوس بندر کې د افغانستان اړوند وارداتي توکو لپاره د لوژستیکي مرکز جوړولو غوښتنه د دې لار نقشې مهم برخې دي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، افغانستان د یادې لار نقشې مسوده له خپل لوري نهایي کړې او له قزاقستاني لوري هم غوښتنه کوي، چې د دوی اړوند برخې نهایي او تطبیق ته یې زمینه برابره کړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اقتصادي همکاریو د پراختیا لپاره د خصوصي سکټور رول مهم وباله او ویې ویل، د سوداګریزو نندارتونونو، ګډو اقتصادي فورمونو، د سوداګرۍ خونو ترمنځ د همکاریو او د سوداګرو د متقابلو سفرونو ډېروالی کولای شي نوي اقتصادي فرصتونه رامنځته او د پانګونې کچه لوړه کړي.

ورپسې ښاغلي سریک ژومانګارین خبرې وکړې او ویې وویل، د قزاقستان لومړی وزیر له افغانستان سره د اړیکو پراختیا او اقتصادي همکاریو زیاتوالي ته ځانګړې توجه لري او ننۍ سفر یې هم د هغه په هدایت شوی.

ښاغلي ژومانګارین زیاته کړه، چې هېواد یې له افغانستان سره د زړه ناروغیو د تشخیص، امنیتي سکټور د پیاوړتیا او همداراز د اوبو مدیریت په برخه کې همکاریو ته چمتو دی. نوموړي وویل، دوی به په کابل پوهنتون کې د اوبو مدیریت لپاره یو علمي مرکز پرانیزي چې افغان متخصصینو ته به روزنه ورکوي.

په دې غونډه کې همداراز د ترانسپورټ، صادراتو او وارداتو د زیاتوالي، بانکي اسانتیاوو رامنځته کولو، د اقتصادي همکاریو د لار نقشې د ژر نهایي کېدو او یوشمېر نورو موضوعاتو په اړه هم بحث وشو او ټینګار وشو، چې په دې اړه به تخنیکي کمېټې خپلو کارونو ته دوام ورکړي.

# د خوست ولایت د سرو زرو کان تړون لاسلیک شو



د کانونو او پټرولیم وزیر الحاج ملا هدایت‌الله بدري، د خوست ولایت د شمل ولسوالۍ د سورکاڼي سیمې د سرو زرو کان تړون د جاوید خان نیازي د کانونو د استخراج او پروسس سوداګریز شرکت له رئیس سره په خپل کاري دفتر کې لاسلیک کړ.

د کانونو او پټرولیم وزیر د تړون د لاسلیک پر مهال وویل چې یاد کان ۰.۶۱۸۵۰۳ کیلومتره مربع مساحت لري او د استخراج او پروسس تړون یې د پنځو کلونو لپاره لاسلیک شوی دی. نوموړي زیاته کړه چې یاد شرکت به د دې پروژې په برخه کې په ټولیزه توګه ۸۰۲ میلیونه او ۴۷۶ زره افغانۍ پانګونه وکړي او همداراز به د سیمې خلکو ته د ټولنیزو خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې خپلې ژمنې عملي کړي.

د جاوید خان نیازي د کانونو د استخراج او پروسس سوداګریز شرکت رئیس ژمنه وکړه چې په تړون کې درج شوې ټولې ژمنې به عملي کوي او د پروژې چارې به په بشپړه روڼتیا او ټاکلي وخت ترسره کړي.

د یادونې وړ ده چې په یاد کان کې د اسلامي امارت برخه ۶۰ سلنه ټاکل شوې ده.

# تلاش‌های وزارت شهرسازی و مسکن برای حل کمبود خانه در...



...آریانا نیوز: مسؤلان وزارت شهرسازی و مسکن می‌گویند که این وزارت برای حل مشکل کمبود مسکن در کشور، تلاش دارد تا در ولایت‌های مختلف، به‌شمول کابل، اقدامات لازم را انجام دهد.

به گفته مسؤلان این وزارت، در شهر کابل ۴۱ ساحه برای ایجاد شهرک‌های رهایشی اختصاص یافته است و قرار است کارهای ساختمانی در این مناطق آغاز شود.

آنان می‌افزایند که وزارت شهرسازی و مسکن تلاش می‌کند تا با همکاری بخش خصوصی، سرمایه‌گذاری‌ها در بخش مسکن‌سازی را گسترش دهد.

در همین حال، اعضای بخش خصوصی می‌گویند که سرمایه‌گذاری در بخش مسکن‌سازی در کشور از اهمیت ویژه‌ای برخوردار است. آنان تأکید می‌کنند که افغانستان ظرفیت بالایی برای سرمایه‌گذاری در این بخش دارد و با توجه به افزایش جمعیت، نیاز است سرمایه‌گذاری‌های بیشتری صورت گیرد. شماری از آگاهان امور اقتصادی نیز می‌گویند که افغانستان ظرفیت مناسب برای سرمایه‌گذاری در بخش مسکن‌سازی را دارد و از وزارت شهرسازی و مسکن می‌خواهند برای بخش خصوصی در این زمینه سهولت‌های بیشتری فراهم سازد. به باور آنان، در صورت ایجاد این تسهیلات، صدها میلیون دالر سرمایه جذب خواهد شد و برای هزاران تن از شهروندان کشور فرصت‌های کاری فراهم می‌شود.

# د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د کرنې او مالدارۍ د پراختیا په موخه یو شمېر پروژې او مرستندوی اقدامات تطبیق شول

د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د کرنې او مالدارۍ د سکتور د پیاوړتیا، د بزګرانو د اقتصادي وضعیت د ښه والي، د حاصلاتو د زیاتوالي او د بدیل کښتونو د ترویج په موخه یو لړ پروژې، روزنیز پروګرامونه او مرستندوی اقدامات عملي شوي دي.

د میدان وردګ ولایت د کرنې ریاست د مالدارۍ د ودې او د حیواني ناروغیو د مخنیوي په موخه د بروسلوز ناروغۍ د واکسین کمپاین پیل کړی، چې په ترڅ کې به د ولایت په ټولو ولسوالیو کې ۵۷۰۰ دوز د غواګانو او ۱۲۰۰۰ دوز د مېږو واکسین تطبیق شي.

په خوست ولایت کې د بزګرانو د اقتصادي وضعیت د ښه والي په موخه ۲۰۰ مستحقو بزګرانو ته د کورنیو باغچو وسایل او ۲۲ شنې خونې، چې ارزښت یې نږدې ۲.۷۶ میلیونه افغانۍ دی، وېشل شوي دي. همدارنګه په همدې ولایت کې بزګرانو او بڼوالو ته د عصري کرنې، د مېوو د معیاري تولید او د اوبو لګولو په برخو کې روزنیز پروګرامونه ترسره شوي دي.

په بدخشان ولایت کې د ښځو د اقتصادي پیاوړتیا او د کورنیو د عاید د لوړولو په موخه ۴۰ د چرګو د روزنې ماشینونه د فیض‌آباد او تشکان ولسوالیو مستحقو کسانو ته وېشل شوي، چې له اړینو وسایلو او سولري سیستم سره یو ځای ورکړل شوي دي. په پکتیکا ولایت کې ۴۷ بزګرانو ته د اصلاح شویو لوبیا تخمونه او کیمیاوي سرې وېشل شوي، څو د کرنیزو حاصلاتو کچه لوړه شي. همدارنګه بزګرانو ته اړینې تخنیکي مشورې هم وړاندې شوې دي.

په جوزجان ولایت کې د لوبیا د کرکېلې د ترویج په موخه ۱۵ نمایشي قطعات جوړېږي، څو بزګران له نوې او معیاري کرنې سره عملي بلدتیا ترلاسه کړي.

په پروان ولایت کې د شینوارو ولسوالۍ د سبزیجاتو بزګرانو ته د شنو خونو اړین وسایل وېشل شوي دي.

په کندهار ولایت کې د پنجوایي ولسوالۍ کې د ځنګلي او نیمه ځنګلي بوټو د ناقانونه پرېکولو او لېږد د مخنیوي په موخه ګډ کمپاینونه ترسره شوي دي. همدارنګه د ارغستان ولسوالۍ ۵۰ بېوزلو بڼوالو ته د بڼوالۍ عصري وسایل وېشل شوي دي.

په ننګرهار ولایت کې د بهسود، بټي کوټ، مومندرې او کوټ ولسوالیو ۳۲۰ بزګرانو ته د سویابینو اصلاح شوي تخمونه او کیمیاوي سرې وېشل کېږي.

په بلخ ولایت کې د زارع ولسوالۍ بزګرانو ته اصلاح شوي د ماش تخمونه او کیمیاوي سرې وېشل شوي دي.

د مسئولینو په وینا، دغه پروګرامونه د کرنیز سکتور د پیاوړتیا، د بزګرانو د ملاتړ، د بدیل کښتونو د ترویج او د کلیوالو د اقتصادي وضعیت د ښه والي لپاره مهم ګامونه بلل کېږي.

PANA
ARG
Islamic Emirate of Afghanistan
Govt. Media and Information Center
www.gmic.gov.af
www.parmakhtag.af
Issue #110



Publish By:
Government Media and Information Center (GMIC)

Contact Number:
93+ (0) 202100633

Email:
info@gmic.gov.af

Address:
Marble Palace, Opposite to the Ministry of Foriegn Affairs, Kabul, Afghanistan

# Samangan Cement Project Secures $67 Million Investment Under 30-Year Deal





Mullah Hedayatullah Badri, Minister of Mines and Petroleum, signed the contract for the Aibak Cement Project in Feroz Nakhchir District of Samangan Province with the "Aibak Cement" company, with a total investment of USD 67 million and a royalty of 200 Afghanis per ton.

The Minister stated that the mining contract has been concluded for a period of 30 years, subject to compliance with mining principles, regulations, and contractual obligations. He added that the implementation of this project will create employment opportunities for 600 citizens. The company is also obliged to spend approximately USD 1 million on social services during the contract period...ContP#4

# Returnee Housing Program Expands as Thousands Receive Land Allocation



The Permanent Settlement and Land Distribution Committee, led by the Ministry of Urban Development and Housing, has recently distributed residential land plots to 554 returnee families in seven provinces.

As part of efforts to provide permanent housing for returnees, families in Nangarhar, Farah, Helmand, Nimroz, Faryab, Balkh, and Zabul provinces received land plots.

According to distribution figures,...ContP#4

# Major Gold Mine Development Agreement Signed in Eastern Afghanistan

The Minister of Mines and Petroleum, Hedayatullah Badri, signed a contract for the gold mine in the Surkani area of Shamal District, Khost Province, with the head of the mining and processing company of businessman Jawed Khan Niazi.

The Minister stated that the mine covers an area of 0.618503 square kilometers, and the extraction and processing contract has been signed for a period of five years. He added that the company will invest a total of 802,476,000 Afghanis in the project and will...ContP#4

...also fulfill its commitments regarding social services for local residents. The head of the company pledged to implement all contractual obligations transparently and complete the project within the specified timeframe.

It is worth noting that the Islamic Emirate's share in this mine is set at 60 percent.



# Ministry Resolves 131 Women's Rights Cases Across Multiple Provinces

Provincial inspectors of the Ministry of Vice and Virtue and Complaints Handling, have recently resolved 131 cases related to women's Sharia rights.

According to the ministry, these cases include 58 cases of domestic violence, 15 inheritance disputes, 17 cases of un-Islamic marriages, 14 dowry-related cases, 8 cases involving alimony, 11 cases related to arranging lawful marriages for women, and 8 divorce-related cases.

Inspectors also resolved 12 major tribal feuds and 62 minor disputes nationwide to strengthen social unity and prevent ethnic and linguistic tensions.

Furthermore, 9 individuals involved in sorcery and superstition practices were arrested and referred to judicial authorities for legal proceedings...ContP#4

# Ministry of Urban Development and Housing Intensifies Efforts to Address Housing Shortage



Ariana News: Officials from the Ministry of Urban Development and Housing say the ministry is taking steps to address the housing shortage across the country by implementing necessary measures in various provinces, including Kabul.

According to ministry officials, 41 sites have been designated in Kabul City for the development of residential townships, and construction work is expected to begin in these areas in the near future...ContP#4

# Returnee Housing Program Expands as Thousands Receive Land...

...166 families in Nangarhar, 125 in Farah, 98 in Zabul, 62 in Faryab, 60 in Balkh, 27 in Nimroz, and 16 in Helmand received residential plots.
Officials noted that, to date, more than 48,000 returnee families across the country have been allocated residential land plots.
They added that the process of land distribution is continuing in an organized and accelerated manner to ensure permanent settlement, housing support, and improved living conditions for returnees.

# New Modern Bus Terminal Opens in Zabul After 14 Months of Construction

Bakhtar News Agency: A bus terminal constructed by the Ministry of Transport and Civil Aviation at a cost of 32 million Afghanis has been completed and inaugurated in the center of Zabul Province.
According to Mawlavi Nazif, Director of Land Transport Regulation in the province, the terminal includes a three-story administrative building, a passenger waiting area, a boundary wall, and other essential facilities. The construction work was completed within 14 months. Zabul Governor Mullah Sher Mohammad Sharif described the terminal as an important step in expanding transport services, stating that such infrastructure projects play a key role in solving public problems and improving service delivery. Officials said the new terminal will improve transport services in Zabul and make passenger movement more organized and efficient.

# Samangan Cement Project Secures $67 Million Investment Under 30-Year...





...Officials said the factory will have a production capacity of 1,200 tons of cement per day.
Ministry officials emphasized that the project will play an important role in developing domestic industry, reducing dependence on imported cement, and strengthening the national economy.

# Ministry of Urban Development and Housing Intensifies Efforts...

...They added that the ministry is working to expand investment in the housing sector through cooperation with the private sector and by encouraging greater participation in residential development projects.
Meanwhile, representatives of the private sector stated that investment in housing construction is of particular importance and emphasized that Afghanistan has significant potential for investment in this field. They noted that, given the country's growing population, increased investment in housing projects is essential.
A number of economic experts also stated that Afghanistan offers favorable opportunities for investment in the housing sector and called on the Ministry of Urban Development and Housing to provide additional incentives and facilities for private investors. According to these experts, the introduction of such measures could attract hundreds of millions of dollars in investment and create thousands of employment opportunities for Afghan citizens.

# Bamyan Iron Mine Attracts AFN 439 million Investment

Mullah Hedayatullah Badri, Minister of Mines and Petroleum, signed the contract for an iron ore mine in Yakawlang District of Bamyan Province with representatives of the Nazari Rahimi and Khan Waziri companies.
The mine, which covers an area of 85 square kilometers, has been contracted with an investment of AFN 438,961,626 and a royalty rate of 20 percent.
Speaking at the signing ceremony, the Minister of Mines and Petroleum stated that the contract has been awarded for a period of 30 years, on the condition that the contracting companies operate in accordance with mining laws, procedures, and their contractual commitments.
He added that, under the agreement, 100 percent of the mineral processing will be carried out within Afghanistan. He also discussed social service commitments and other related obligations, noting that the implementation of the project will create dozens of direct and indirect employment opportunities for local residents and citizens of the country.

# Ministry Resolves 131 Women's Rights Cases Across...

...To prevent usury, hoarding, underweight selling, and the sale of expired or low-quality goods, inspectors also held 211 reform meetings with traders and shopkeepers. Additionally, nationwide inspectors conducted 423 public awareness and reform meetings with local communities to promote moral conduct, support the Islamic system, and prevent wrongdoing across society.

# Ministry of Urban Development Approves Major Plan for Jawzjan Returnee Township



The reform plan for the Migrant Township in Jawzjan Province has been approved and signed by Mawlavi Najibullah Hayat Haqqani, Minister of Urban Development and Housing, following a technical assessment.
The plan has been developed to support the permanent settlement of returnees, ensure the organized provision of urban services, and promote the standardized expansion of residential areas. Its implementation is expected to provide adequate housing and essential urban facilities for thousands of families.
According to the plan, a designated area has been allocated and designed for 6,604 residential plots within the Jawzjan Migrant Township. In addition to residential zones, the plan also includes provisions for road networks, public infrastructure, green spaces, educational and healthcare services, and other necessary urban facilities.
The leadership of the Ministry of Urban Development and Housing described the approval of this plan as an important step toward the sustainable settlement of returnees and organized urban development, emphasizing that the construction of standardized townships and the provision of basic living services remain among the ministry's key priorities.
It is expected that, with the implementation of this reform plan, the Jawzjan Migrant Township will be transformed into a well-planned, standard, and sustainable residential area, providing dignified living conditions for returning families.

## د افغانستان اسلامي امارت

# رئیس الوزراء د قزاقستان لومړي وزیر مرستیال

## او د اقتصاد وزیر...

...هم حضور درلود، په پیل کې د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء ښاغلي سیریک ژومان ګارین ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړه، افغانستان او قزاقستان دوه مسلمان هیوادونه دي چې په سیاسي، اقتصادي، دیني او فرهنګي برخو کې ګڼ مشترکات لري.

ورپسې د قزاقستان لومړي وزیر مرستیال او د اقتصاد وزیر کابل ته په خپل سفر خوښي وښوده او د دې سفر موخه یې له افغانستان سره د اقتصادي او سیاسي اړیکو پراختیا او پیاوړتیا وبلله.

ښاغلي سیریک ژومان ګارین وویل، د قزاقستان جمهوررئیس افغانستان ته ځانګړې توجه لري او د دواړو هیوادونو ترمنځ اړیکې له نږدې څاري، ځکه افغانستان په سیمه کې زموږ مهم شریک دی.

نوموړي زیاته کړه، قزاقستان له افغانستان سره بشردوستانه همکاریو په ځانګړي ډول راستنېدونکو مهاجرینو او د طبیعي پېښو زیانمنو شویو افغانانو ته خاصه پاملرې کوي، او په دې وروستیو کې اته واګونه بشري مرستې چې خیمې، درمل او نور بېلابېل اړین توکي پکې بار دي افغانستان ته راولېږدول.

د قزاقستان د لومړي وزیر مرستیال او د اقتصاد وزیر څرګنده کړه، موږ غواړو له افغانستان څخه قزاقستان ته د صادراتو کچه لوړه کړو، په همدې موخه به نن په کابل کې افغان - قزاق ګډه تجارتي خونه پرانیستل شي.

نوموړي دېته په اشارې چې افغانستان د سالمې رهبرۍ په لرلو سره په بېلابېلو برخو کې پرمختګونه کړي ووېل، قزاقستان په ټولو برخو کې له افغانستان سره همکارۍ ته چمتو دی.

د قزاقستان د لومړي وزیر مرستیال او د اقتصاد وزیر د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء محترم الحاج ملا محمد حسن اخوند ته د دغه هیواد د جمهوررئیس له لوري د سفر رسمي بلنه هم ورکړه.

د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء د دواړو هیوادونو اړیکي مهمې وبللې او وې ویل، دا مهال افغانستان په بېلابېلو برخو کې ښه پرمختګونه کړي، چې دا ټول د دوستو هیوادونو د همکاریو پایله ده.

د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء زیاته کړه، خدای دې وکړي چې دغه سفر د دواړو هیوادونو ترمنځ د اړیکو د لازیاتې پیاوړتیا لامل وګرځي.

محترم الحاج ملا محمد حسن اخوند دغو ښو اړیکو ته په اشارې ووېل، ټولو اړوند ادارو ته لارښوونه کېږي چې په بېلابېلو برخو کې د قزاقستان او افغانستان ترمنځ د همکاریو د پراختیا او د اړیکو پیاوړتیا لپاره عملي ګامونه واخلي.

د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء د قزاقستان د لومړي وزیر مرستیال څخه وغوښتل چې د ده سلامونه او نېکې هیلې د قزاقستان جمهور رئیس ښاغلي قاسم جومارت توکایوف او د کابینې غړو ته ورسوي.

په پای کې محترم الحاج ملا محمد حسن اخوند د قزاقستان جمهوررئیس ته هم افغانستان ته د سفر بلنه ورکړه.

## قزاقستان په کابل کې د درملو د پلور ځانګه او د سوداګرۍ...



...د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ارګ په چهارچنار مانۍ کې د قزاقستان د ولسمشر له مرستیال او د اقتصاد وزیر ښاغلي سریک ژومانګارین سره وکتل.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال یاد هیئت ته ښه راغلاست ووایه او د لوړ رتبه مسئولینو سفرونه یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاریو د پراختیا په برخه کې مهم وبلل.

د قزاقستان د ولسمشر مرستیال خوښي څرګنده کړه چې په وروستیو کې د دواړو هېوادونو ترمنځ په سوداګرۍ کې زیاتوالی راغلی دی. هغه ووېل، چمتو دي چې هرات ولایت ته د قزاقي اوړو د صادراتو د ترانسپورټ په برخه کې سبسایډي ورکړي او همداراز به په کابل کې د قزاقستاني درملو د پلور ځانګه او د سوداګرۍ خونه هم پرانیزي. ښاغلي ژومانګارین زیاته کړه، د مالي اسانتیاوو رامنځته کېدو لپاره د افغانستان بانک او غضنفر بانک کې د خپلو حسابونو پرانیستلو، په افغانستان کې د بېلابېلو کانونو، په ځانګړي ډول د کرومایټ او زینک ډبرو د اکتشاف او استخراج، کیمیاوي سرې تولید او د دې ترڅنګ د مزارشریف – هرات- کندهار – سپین بولدک اوسپنې پټلۍ شبکې د جوړولو په برخه کې عملي همکاریو ته چمتو دي.

د دې لیدنې پرمهال قزاقي لوري د افغانستان خوراکي توکو د صادراتو زیاتوالي ته لېوالتیا وښوده او ویې ویل، چې د دوه اړخیزې سوداګرۍ د زیاتوالي لپاره به پر افغاني توکو مالیې راټیټې کړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال له قزاقي لوري مننه وکړه او ډاډ یې ورکړ، چې په یادو برخو کې به د افغانستان اسلامي امارت اړوند ادارې ورسره ګډ کار او همکاري وکړي.

## د مېرمنو شرعي حقونو ته رسېدنه؛ د امربالمعروف وزارت له لوري ۱۳۱ قضیې...

...د مېرمنو لپاره د شرعي نکاح د زمینې برابرولو او پاتې ۸ د طلاق اړوند قضیې شاملې دي.

همداراز، محتسبینو د ټولنې د یووالي د پیاوړتیا او د قومي او ژبني تعصباتو د مخنیوي په موخه د هېواد په کچه ۱۲ لوېې دښمنۍ او ۶۲ وړې شخړې حل کړې دي.

دغه راز د یاد وزارت محتسبینو د ناوړه دودونو د مخنیوي، ټولنیز عدالت د تأمین او د خرافاتو د له منځه وړلو په موخه ۹ تنه کوډګر نیولي او د شرعي پرېکړې په موخه یې عدلي او قضايي ارګانونو ته ورپېژندلي دي.

همدارنګه، محتسبینو په بازارونو کې د سود، احتکار، په ترازو کې د کم‌فروشۍ، او د تاریخ تېرو او بې‌کیفیته توکو د پلور د مخنیوي په موخه له سوداګرو او هټۍوالو سره ۲۱۱ اصلاحي ناستې ترسره کړې دي.

همداراز د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت محتسبینو د هېواد په کچه له ځايي خلکو سره د عامه ذهنیت د سمون، د اسلامي نظام د ملاتړ او په ټولنه کې د معروفاتو د پلي کېدو او منکراتو د مخنیوي په موخه په دې اونۍ کې ۴۲۳ اصلاحي ناستې هم ترسره کړې دي.

## د جوزجان ولایت د مهاجرینو ښارګوټي اصلاحي پلان تائید او...

...د کور او ښار جوړولو وزارت مشرتابه د دغه پلان تائید د راستنېدونکو هېوادوالو د دايمي مېشتېدنې او منظمې ښاري پراختیا په برخه کې مهم ګام بللی او ټینګار یې کړی چې د مهاجرینو لپاره د معیاري ښارګوټو جوړول او د ژوند د بنسټیزو اسانتیاوو برابرول د وزارت له اساسي لومړیتوبونو څخه دي.

تمه کېږي چې د یاد اصلاحي پلان په عملي کېدو سره به د جوزجان ولایت د مهاجرینو ښارګوټی په یوه منظم، معیاري او دوامدار استوګنیز ښارګوټي بدل شي او راستنېدونکو کورنیو ته به د مناسبې او باعزته مېشتېدنې شرایط برابر شي.

## کندهار کې د څه باندې یو میلیونه ډالرو په لګښت د یوې پراختیايي...

...باختر آژانس: د کندهار د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست مسئولین وایي چې د نشه‌یي توکو او جرمونو پر وړاندې د مبارزې د نړیوال سازمان په مالي ملاتړ د ۱.۳ میلیونه ډالرو په لګښت د کوکنارو د بدیل کښتونو او د کروندګرو او مالدارانو د ملاتړ دوه کلنه پروژه بشپړه شوې ده.

د یاد ریاست مسئولین زیاتوي چې د دغې پروژې چارې د دوو کلونو په موده کې د ارغستان، شاه‌ولي‌کوټ، خاکریز او غورک ولسوالیو کې پلي شوې دي.

د مسئولینو په وینا، د پروژې په ترڅ کې ۳ زره ۳۱۰ بزګرانو ته د غنمو، پنبې، حبوباتو او سبزیجاتو تخمونه، کیمیاوي سرې، د غنمو د رېبلو ماشینونه او د کرنیزو حاصلاتو د لوړولو وسایل وېشل شوي دي.

دوی وايي چې ۵۰ بزګرانو ته د مرخېړیو مجهز فارمونه جوړ شوي او په هره ولسوالۍ کې د تخمونو د ساتنې څلور لوی مرکزونه هم رامنځته شوي دي.

د مالدارۍ په برخه کې د تازه شیدو راټولولو شپږ مرکزونه، د څارویو د خوراکي توکو څلور مرکزونه جوړ شوي، او شپږ تنه مسلکي کسان د مصنوعي القاح په برخه کې روزل شوي او اړین تجهیزات ورته سپارل شوي دي. همداراز ۴۰۰ مالدارانو ته د کورت جوړولو وسایل، ۲۰ کورنیو ته د شاتو مچیو فارمونه ورکړل شوي او له زرو څخه زیات څاروي د بېلابېلو ناروغیو پر وړاندې واکسین او درمل شوي دي.

## د بامیان ولایت د اوسپنې کان تړون...

...د ۳۰ کلونو لپاره په دې شرط لاسلیک کېږي چې قراردادي شرکتونه د کانونو له اصولو، کړنلارو او خپلو ژمنو سره سم فعالیت ترسره کړي.

نوموړي زیاته کړه چې د هوکړې له مخې به د کان سل سلنه پروسس په هېواد دننه ترسره کېږي. همداراز یې د ټولنیزو خدمتونو او نورو اړوندو موضوعاتو په اړه خبرې وکړې او څرګنده یې کړه چې د دې پروژې په عملي کېدو سره به لسګونو کسانو ته مستقیم او غیر مستقیم د کار زمینه برابره شي.

## حل‌وفصل ۱۰ منازعه و دشمنی میان اقوام و خانواده‌ها...

...جوزجان و تخار بر اساس رهنمودهای شرعی و به‌گونه مسالمت‌آمیز حل‌وفصل نمایند.

براساس معلومات این وزارت، این منازعات و خصومت‌ها ناشی از اختلافات خانوادگی، منازعات قومی، مسائل مربوط به تقسیم ارث و برخی سوءتفاهم‌های اجتماعی بوده است که در مواردی سبب ایجاد تنش و دوری میان طرفین شده بود.

منسوبین این وزارت با میانجی‌گری، برگزاری نشست‌های اصلاحی، ارائه رهنمودهای شرعی و تأکید بر اصول اخوت، برادری و همزیستی مسالمت‌آمیز، طرف‌های درگیر را به صلح، تفاهم و گذشت متقابل تشویق کردند که در نتیجه، تمامی این منازعات به‌صورت مسالمت‌آمیز خاتمه یافت.

## زابل کې د ۳۲ میلیونه افغانیو په لګښت یو ترمینل جوړ او ګټې اخیستنې...

...باختر آژانس: د زابل ولایت په مرکز کې د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت له لوري د ۳۲ میلیونه افغانیو په لګښت یو ترمینل جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

د یاد ولایت د ځمکني ترانسپورټ او تنظیم رئیس مولوي نظیف باختر اطلاعاتي اژانس ته ووېل، چې په دغه ترمینل کې د ریاست لپاره درې پوړیزه اداري ودانۍ، د مسافرو لپاره تمځای، احاطوي دېوال او نور اړین ملحقات شامل دي او چارې یې د ۱۴ میاشتو په موده کې بشپړې شوې دي. ورته مهال د زابل والي محترم ملا شېرمحمد شریف یاد ترمینل د ترانسپورټي خدمتونو د پراختیا لپاره مهم ګام وباله او ویې ویل، چې د ورته بنسټیزو او خدماتي پروژو پلي کول د خلکو ستونزو په حل او د عامه خدمتونو په ښه والي کې مهم رول لري.

د یادونې وړ ده، چې د دغه ترانسپورټي ترمینل په جوړېدو سره به د زابل ولایت د ترانسپورټي خدمتونو کچه لوړه او د مسافرو د تګ راتګ بهیر لا منظم او اسانه شي.

## قرارداد سمنت ولایت سمنگان امضا شد



محترم الحاج ملا هدایت‌الله بدری، وزیر معادن و پترولیم، قرارداد پروژه سمنت ایبک ولسوالی فیروزنخچیر ولایت سمنگان را با شرکت «ایبک سمنت» با مجموع سرمایه‌گذاری ۶۷ میلیون دالر امریکایی و رویالتی ۲۰۰ افغانی به ازای هر تن، امضا کرد. وزیر معادن و پترولیم در مورد این پروژه گفت که قرارداد معدن متذکره برای مدت ۳۰ سال، مشروط بر رعایت اصول، طرزالعمل‌های معادن و تعهدات قراردادی، منعقد شده است.

وی افزود که با تطبیق این پروژه، زمینه‌های کاری برای ۶۰۰ تن از شهروندان کشور فراهم می‌گردد. همچنان این شرکت مکلف است حدود یک میلیون دالر امریکایی را در بخش خدمات اجتماعی در طول مدت قرارداد به مصرف برساند.

به گفته مسئولان، ظرفیت تولید این کارخانه روزانه ۱۲۰۰ تن سمنت خواهد بود. مسئولان وزارت معادن و پترولیم تأکید کرده‌اند که تطبیق این پروژه نقش مهمی در رشد صنعت داخلی، کاهش وابستگی به واردات سمنت و تقویت اقتصاد کشور خواهد داشت.

امارت اسلامی افغانستان
مقام ریاست الوزراء
ریاست عمومی دفتر
دفتر سخنگو
مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت




صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
ویب سایت: www.parmakhtag.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

# هیئت عالی‌رتبه جمهوری قزاقستان وارد کابل شد

هیئت عالی‌رتبه جمهوری قزاقستان به ریاست محترم سریک ژومانگارین، معاون صدراعظم و وزیر اقتصاد ملی آن کشور، وارد کابل شد.
هدف از این سفر، برگزاری مجمع تجارتی و اقتصادی افغان–قزاق و نیز برپایی نمایشگاه محصولات و تولیدات جمهوری قزاقستان در کابل عنوان شده است.
در ترکیب این هیئت، شماری از معاونان ادارات سکتوری، مسئولان نهادهای اقتصادی و نمایندگان برجسته سکتور خصوصی جمهوری قزاقستان نیز حضور دارند.
این سفر در شرایطی انجام می‌شود که روابط اقتصادی و تجارتی میان افغانستان و قزاقستان در حال گسترش بوده و دو طرف علاقه‌مند تقویت همکاری‌ها در بخش‌های تجارت، ترانزیت، سرمایه‌گذاری، زراعت، صنایع غذایی و تأمین مواد اولیه هستند.
حضور این هیئت بلندپایه در کابل، بیانگر اهمیت افغانستان در سیاست اقتصادی و منطقه‌ای قزاقستان و نشان‌دهنده اراده مشترک دو طرف برای توسعه همکاری‌های دوجانبه عنوان شده است.
همچنان سریک ژومانگارین ریاست این هیئت را برعهده دارد.
انتظار می‌رود برگزاری مجمع افغان–قزاق و نمایشگاه محصولات قزاقستان، زمینه‌های تازه‌ای را برای ایجاد شراکت‌های تجارتی، افزایش حجم مبادلات اقتصادی، تبادل تجارب و جذب سرمایه‌گذاری میان بخش خصوصی دو کشور فراهم سازد.
این سفر همچنین می‌تواند در تحکیم هرچه بیشتر روابط دوستانه و اقتصادی میان افغانستان و قزاقستان و تقویت همکاری‌های منطقه‌ای نقش مهی ایفا کند.

## له ۴۸ زره څخه زیاتو راستنېدونکو کورنیو ته د استوګنې ځمکې ووېشل شوې




د کور او ښار جوړولو وزارت په مشرۍ د دایمي مېشتېدنې او د ځمکو د وېش کمېټې د هېواد په اوو ولایتونو کې ۵۵۴ راستنېدونکو کورنیو ته د استوګنیزو ځمکو نمرې ووېشلې.
د راستنېدونکو هېوادوالو د دایمي مېشتېدنې او مناسبې سرپناه د برابرولو په موخه، داخل په ننګرهار، فراه، هلمند، نیمروز، فاریاب، بلخ او زابل ولایتونو کې سلګونه کورنۍ د استوګنیزو ځمکو له نمرو برخمنې شوې.
د وېشل شویو نمرو د شمېر له مخې، په ننګرهار ولایت کې ۱۶۶، فراه کې ۱۲۵، زابل کې ۹۸، فاریاب کې ۶۲، بلخ کې ۶۰، نیمروز کې ۲۷ او هلمند کې ۱۶ راستنېدونکو کورنیو ته د استوګنیزو ځمکو نمرې ورکړل شوې.
د یادونې وړ ده چې تر دې دمه په ټول هېواد کې له ۴۸ زره څخه زیاتو راستنېدونکو کورنیو ته استوګنیزې نمرې وېشل شوې دي.
مسئولین وایي چې د راستنېدونکو مهاجرو د دایمي مېشتېدنې، د سرپناه د برابرولو او د ژوند د بنسټیزو اسانتیاوو د رامنځته کولو په موخه د استوګنیزو ځمکو د وېش بهیر په منظم او چټک ډول روان دی.

## د مېرمنو شرعي حقونو ته رسېدنه؛ د امربالمعروف وزارت له لوري ۱۳۱ قضیې حل شوې

د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت ولایتي محتسبینو په دې وروستیو کې د مېرمنو د شرعي حقونو اړوند ۱۳۱ بېلابېلې قضیې حل کړې دي.
د ورکړل شویو معلوماتو له مخې، په دغو قضیو کې ۵۸ د کورني تاوتریخوالي، ۱۵ د میراث، ۱۷ د غیر شرعي نکاحګانو، ۱۴ د ولور، ۸ د نفقې ورکړې، ۱۱ قضیې...

۵

## د جوزجان ولایت د مهاجرینو ښارګوټي اصلاحي پلان تائید او لاسلیک شو



د کور او ښار جوړولو وزارت د محترم وزیر الحاج مولوي نجیب الله حیات حقاني له لوري د جوزجان ولایت د مهاجرینو ښارګوټي اصلاحي پلان له تخنیکي ارزونې وروسته تائید او لاسلیک شو.
یاد اصلاحي پلان د راستنېدونکو مهاجرو د دایمي مېشتېدنې، د ښاري خدمتونو د منظم تنظیم او د استوګنیزو سیمو د معیاري پراختیا په موخه ترتیب شوی، چې له پلي کېدو سره به یې د زرګونو کورنیو لپاره د مناسبې سرپناه او اړینو ښاري اسانتیاوو د برابرېدو زمینه برابره شي.
د پلان له مخې، د جوزجان ولایت د مهاجرینو په ښارګوټي کې د ۶۶۰۴ استوګنیزو نمرو لپاره ځانګړې ساحه تنظیم او ډیزاین شوې ده. همداراز په یاد پلان کې د استوګنیزو سیمو ترڅنګ د سړکونو شبکې، عامه تاسیساتو، شنو ساحو، تعلیمي او روغتیایي خدمتونو او نورو اړینو ښاري اسانتیاوو لپاره لازمې ساحې هم په پام کې نیول شوې دي...


۵

## د بامیان ولایت د اوسپنې کان تړون لاسلیک شو

د کانونو او پترولیم وزیر محترم الحاج ملا هدایت‌الله بدري د بامیان ولایت د یکاولنګ ولسوالۍ د اوسپنې کان تړون د نظري رحیمي او خان وزیري شرکتونو له استازو سره لاسلیک کړ.
یاد کان چې ۸۵ کیلومتره مربع مساحت لري، د ۴۳۸ میلیونه، ۹۶۱ زره او ۶۲۶ افغانیو په پانګونې او د ۲۰ سلنه رویالټۍ په بدل کې قرارداد شوی دی.
د کانونو او پترولیم وزیر د تړون د لاسلیک پر مهال ووېل چې یاد قرارداد...


۵

## کندهار کې د څه باندې یو میلیونه ډالرو په لګښت د یوې پراختیایي پروژې چارې بشپړې شوې



۵

## زابل کې د ۳۲ میلیونه افغانیو په لګښت یو ترمینل جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو



۵

## حل‌وفصل ۱۰ منازعه و دشمنی میان اقوام و خانواده‌ها در چهار ولایت



منسوبین وزارت امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات در راستای تحکیم همبستگی اسلامی، تأمین صلح اجتماعی و حل منازعات و خصومت‌های میان اقوام و خانواده‌ها، ۱۰ مورد منازعه و دشمنی را در ولایت‌های بلخ، کابل،...

۵